امان الله صافی ۲۶/۰۴/۲۰۱۲

# په تهران کی د افغان سفارت کاري کمزورتیا

د روان زیږدیز کال (۲۰۱۲) د اپریل په ۲۲ نیټه د افغان جرمن انلاین په خوږه ویبپا ڼه کی می یو مضمون په سترګو شو چی سرلیک یی وو: **(په تهران کی د یوه ایراني شرکت له خوا د افغان پا سپورتونود ویش پروړاندی اندیښنی).**

خدای ته ښکاره ده چی مضمون راته یو څه په زړه پوری ښکاره شو او تر پا یه می ولوست. مګرپه لوستو یی ډیر ما یوسه او خپه شوم، پدی خا طر چی ولی د افغا نستان د سفارت غړي د دی وړتیا او استعداد نه لري چی د خپلو افغانو کډوالو دپاره په تهران کی په خپله پاسپورتونه وویشي. نو څرنګه چی پاسپورت د یوی خوا د یو هیواد د با اعتباره اسنادو دجملی څخه دی اوله بلی خوا د یو هیواد د ملی هویت ښکارندویي کوي نو ددی ویش د پردیو له خوا یو نا جا یزه او غیر قا نوني کا ردی. او له بلی خوا په دیپلوما تیکو دندو او کارونو کی دا یو ډول ښکاره لاس وهنه ده ، البته د افغان سفارت د ا کار دا معنی ورکوي لکه په لوی لاس چی میږه په لیوه وسپاری. په هرصورت، زه غواړم پدی اړه یو څه ولیکم. د یو سفارت یا قونسلګري پرانیستل په یوه بهرني هیواد کی د څو موخو لپاره تر سره کیږي .لمړی، سفارت یا قونسلګري د دوه هیوادنو ترمینځ د یو پل حیثیت لري چی کولای شي ددی لاری نه ددواړو هیوادونو اړیکي په ښه توګه برقراره کړي او د خپلو سیا سي او د ډیپلوماتیکو کړنو له لاری خپلو ملي ګټو ته وده ورکړي او دا باید داسی د خپل هیواد او دولت استازیتوب وکړي چی د بهرنی هیواد د ګټو نه خپلی ملي ګټی غوره وګڼي او د بهرني هیواد تر اغیزی لاندی رای نشي. او بهرني هیواد ته دا اجا زه ور نکړي چی د سفارت او یا قونسلګری په داخلي کارونو کی مداخله او یا لاس وهنه وکړي. څرنګه چی د ډیپلوماسي د سیا ست د پاره یوه ښه وسیله ده نو ددی وسیلی نه باید په داسی زرنګي او هوښیاری کار واخیستل شي چی تل دخپل هیواد مقام او حیثیت په بهرني هیواد کی لوړ وساتل شي. دوهم، سفارت یا قونسلګری د سیا سي او د ډیپلو ما سي دندو تر څنګ با ید ځینی نور کا رو نه هم په بهرنی هیواد کی د خپل ملک د وګړو( اتباعو ) په خا طر تر سره کړي. پدی معنی چی د خپلو وګړو د حقوقو نه په بهر کی ننګه وکړي، د خپلو اتباعو د ستونځونه ځان با خبر کړي او د حل لاره یی ولټوي ، په زندانونو کی د خپلو اتباعو د حال او احوال نه خبرشي او د هغوی د خلا صون په برخه کی د کوربه دولت سره اړیکی ونیسی او د هغوی د قضیي د حل لپاره یوه لاره ولټوی. په بهرني هیواد کی د افغان محصلینو د حال او ستونځو نه ځان با خبرکړي ، د افغانا نود کلتوري او فرهنګي ټو لنو سره په تما س کی اوسیږی ، د افغا نا نو سره د یو مسجد د جوړلو په برخه کی همکاري او ما لي مرسته دریغ نکړي ، د جنا زی او فا تحی په مراسمو کی د افغانا نو سره ګډون وکړي ، د امکان په صورت کی د افغا ني کلتور، فرهنګ او ژبو د خوندي سا تلوپه موخه د افغان کډوالوسره په ګډه د افغان ماشومانود زده کړی لپاره دافغا ني ښونځیو دجوړولو په برخه کی مرسته وکړي . دا ټول هغه ټولنیز خدمتونه او کارونه دی چی یو سفارت یی په بهرني هیواد کی با ید تر سره کړي .خو په خواشینی سره با ید ووایم چی په ایران کی د افغانستان سفارت یا قونسلګریی په پورتنیو خدمتونو او کارونوکی پا تی راغلي دي او خپل مسو لیتونه یی ندی اداکړي. څرنګه چی ټولو ته ښه څرګنده ده چی په ایران کی همدا اوس په زرګونه افغا نا ن په زندا نو کی شپی او ورځی تیره وي، په سل ګونه بی ګناه افغان د اعدام په دار ځړول کیږی او په زرګونه افغا نا ن د انسا ني او کډوالی د حقوقو او امتیازاتو نه بی برخی دی. په ایران کی افغا نا نو ته د انسان په سترګه نه بلکه د کڅا فت په سترګه کتل کیږی ، په ایرا ن کی افغانا ن د تعلیم او تحصیل د نعمت نه بی برخی دي ، د تفریح او سا عت تیر ی په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خا طربشکلو پا رکو ته د دوی په ورتګ بندیزونه لګول شوی دي، حتی په ایران کی که یو ځوان افغان د یوی ایرانی نجلی سره واده وکړی نود هغوی نه که کوم ماشوم وزیږیږی نو دهغوی ماشوم هم مکتب د تللو اجا زه نه لری. پدی خا طر چی دا د یو افغان ماشوم دی. البته چی پدی برخه کی له یوی خوا د کډوالو نړیوا لی عالي کمیشنري هم د ایرنی چارواکو پدی نا وړو کړنوسترګی پټی کړی دي او له بلی خوا د افغا ن سفارت په ایرن کی خپل مسولیت په ښه تو ګه ندي ادا کړي ، نو د ایرانی چارواکو د ټولو نا خوالو نه داسی څرګندیږی چی د ویانا د کنوانسیون ټولی ما دی یی تر پښو لاندی کړی دي. که د ایران چارواکی دا ادعا کوي چی افغا نان زمونږ ملک ته په غیرقا نوني توګه راغلي دي نو افغانان خو نورو بهرني هیوادونو لکه استر لیا، اروپا اوامریکا ته هم په غیر قا نوني توګه تللي دي ولی هغوی د کډوالو د ټولو حقوقو او امتیازاتو نه برخور داردي؟ افغانان خو لا څه چی حتی ایرا نیان هم پدی هیوادونو کی ددی امتیازاتونه ښه برخوردار دي. مګرمونږ د ایران عوام وګړو ته داحترم په سترګه ګورو. دریم، د معتبرو او محرمو اسنادو ویش با ید په خپله سفارت یا قونسلګري تر سره کړي. لکه د پا سپورت صدور یا ویش، د پاسپورت دوخت اوږدول، دشرعی وکا لت خط جوړول، نکاح خط، دزیږیدنی د تایید نیټه او داسی نور. دا ټول هغه اسناد دي چی افغان کډوال په بهرکی ورته اړتیا لري. کوم هغه اسناد چی د سفارت یا قونسلګري له لاری د یو رسمي او پیژندل شوي مهر، او امضا وروسته افغان کډوالو ته ویشل کیږي نه یواځی په داخل د افغا نستان کی د منلو وړ دي بلکه په بهرنیو هیوادونوکی هم دیو معتبر سند په توګه دپیژندلووړدي او د احترم په سترګه ورته کتل کیږی. یو بله خبره چی د ویلو او لیکلو وړ ده، هغه داده چی ۱۹۹۲ او ۲۰۰۱ کلونو را پدی خوا هغه پښتا نه چی د سیا سی نا خوالو او جنګونو له کبله بهرنیو هیوادونو ته کډوال شوی دي نو دوی د افغا نی اسنادو د لاسته راوړلو په برخه کی د ډیرو ستونځو سره لاس او ګریوان دي. دا پدی خا طر چی د افغان کډوالو په څنګ کی د ګاونډیو هیوادونو اتباع (وګړي) لکه پا کستان او ایران هم په بهرنیو هیوادونوکی په تیره بیا په اروپا ، استرلیا او امریکا کی د افغا ن کډوالوپه نومونویی کیسونه ورکړي دي او غواړی چی د افغان په نوم ځان قبول کړي. ګڼ شمیر یی منل شوي هم دي. خو خبره داده چی د اسنادو جوړول د دری ژبو کډوالو دپاره (که د کویټی هزاره او یا کوم ایرانی وي ) د افغان په سفارت یا قونسلګری کی ورته کوم مشکل کار ندی پدی خاطر کله چی د دوی د خولی نه دا کلمه راووځي **(چطور هستید؟ خوب هستید؟)** نو د سفارت مامور سمدلاسه او بی له دی چی د هغه د افغانیت هویت معلوم کړي د اسنادوپه جوړولول لاس پوری کوي او د هغه خدمت ته یی وړاندی کوي. مګر کله چی پښتانه کډوال په بهرکی د اسنادو دلاسته راوړلو(پاسپورت او داسی نور ) په برخه کی سفا رت ته ورځي د ډیرو ستونځو سره مخا مخ کیږي. لمړئ دا چی د سفارت چارواکي هغه ته دشک په سترګه ګوري، پدی معنی چی د سفارت چارواکي داسی فکرکوي چی دا افغان نه بلکه پاکستا نئ دی ولو که دا افغانستا ن د تا بعیت تذکره هم پلاس کی ولري، خو بیا هم د سفارت چار واکی یی افغا ن نه بولي. البته دا ستونځه دوه علتونه لری: ۱ــ له یوی خوا دغه پښتو ن په دری ژبه نه پوهیږی، ځکه چی ټول عمر او زوکړه یی په پا کستان کی شوی دی.۲ – له بلی خوا افغان دیپلومات چی د صحي بیمی نه علاوه دمیا شتی ۳۰۰۰ امریکا یی ډالره معاش اخلی په پښتو ژبه هم خبری نشي کو لای چی د هغه پښتون د هویت ښه پیژندنه وکړي. نو دا پښتون دی ته اړباسی چی یو څوکسه نور پښتانه چی هغوی د بهرنی هیواد اسناد په لاس کی لري د تضمین په توګه سفارت ته راوړي او د هغوی د تضمین په واسته د سفارت نه اسناد په لاس راوړي. نو بالاخره دی پایلی ته رسیږو چی پا سپورت نه یواځی د یو افغان هویت څرګندوي بلکه د افغانستان د آزادي، حا کمیت او ځکمني پشپړتیا ښکارندویی هم کوي. پاسپورت هغه وخت یو بهرني هیواد ته د منلو وړی دی چی د یوی با صلاحیته مرجع او یا کوم دولتی ار ګان له خوا صادر او ویشل شوی وي. ځکه چی د پاسپورت په متن کی نه یواځی د پا سپورت لرونکی نوم، تخلص، دزیږیدنی نیټه او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځای لیکل کیږی، بلکه په پاسپورټ کی د ویش ( صدور) ، مهر او لاس لیک ځای هم شته. که چیری د افغان پاسپورټونو ویش په تهران کی د یو ایرانی شرکت ( شتکا ) له خوا وشی نو ډیری ناوړی پایلی به ولري، ځکه زمونږ د دري ژبی اصطلاحات د هغوی د فارسي ژبی د اصطلا ګا نو سره ډیر توپیر لري. پدی معنی چی هغوی ق په غ تلفظ کوي ځکه چی **باقر**ته هغوی **باغر** وایی او داسی نور. په ځا نګړی توګه په ایران کی پښتانه کډوال به د لا زیا تو ستونځوسره مخا مخ شي او د هغوی په اصلي نومونو کی به زیات توپیراو بدلون راوستل شي . له دی کبله په ایران کی افغان کډوالو ته د یو ایراني شرکت له خوا د افغان پا سپورټونو ویشل به نه یواځی زمونږ د هیواد ملی امنیت ته یو لوی ګواښ وي بلکه دا کار به زمونږ د ټولو افغانانو او په ځانګړي توګه د افغانستان د سفارت دغړو بی سوادي به په اثبات ورسوي. او که ددی کار نه د نړۍ نور هیوادونه خبرشي نو په بهرني هیوادو نو کی به د افغا نانو وقار، حیثیت او موقف ترپښو لاند ی شي او افغا نانو ته به یو لوی سپکا وي. البته پدی کار سره ډیربهرنیان اوپه ځا نګړي توګه نړیوالی تروریستي ډلی هم کولای شي د افغا نا نو په نومونو د دی شرکت نه پاسپورټونه تر لاسه کړي چی دا کار به نه یواځی په داخل کی نا خوالی اوګډوډي را مینځ ته کړي بلکه په بهرکی به د نورو اصلی افغانانو د پاره یو لوی سرخوږۍ شي او د افغا نا نو دحقوقواو امتیا زاتو نه به ناوړۍ ګټی اخلی. او که کوم ناوړي کارونه په بهرکی کوي نو د اصلي افغانانو په بدنامي به تماميږي او د ایرا نیانو د لا ډیرو لاسوهنو دپاره به نه تنها په داخل کی بلکه په بهر کی به ښه وخت په لاس ورشي. څرنګه چی هغو افغا نا نو ته چی په امریکا او ارو پا کی ژوند کوي ور ته ښه پته ده چی دا سي ایرا ني ډلی په بهر کی شته چی غواړي په

خپل تبلیغ سره افغانانو ته د عسویت د دین بلنه ور کړي نو که چیری دا ډول ایرانیانو په بهر کی د افغاني پاسپورټ په لرلوسره دا رنګه تبلیغ ته ادامه ورکړي نو دا کار به دمسلمانو افغانانو په بد نا مي تمام شي او د نړی نورمسلما نان به په بهرکی افغانا نو ته په سپکه او د نفرت په سترګه وګوري.

په پای کی مونږ ټول افغانان که په داخل او یا په خارج کی استو د خپل دولت او د ملت د استازو نه دا هیله کوو چی د دی کا رمخه ونیسي . او که چیری د افغانستان سفا رت په تهران کی چی دمیا شتی په زرګونو ډالرو معاش د افغا نستان د مظلوم ولس د بو دیجی نه تر لاسه کوي او د پاسپورټونو د ویش حوصله مندي او توان نه لري نو د ملت استازی او دولت دی د بهرنیو چارو وزارت ته داسی لارښونه وکړي چی په تهران کی د افغانستان په سفارت کی داسی ديپلوماتان وګماري چی له یوی خوا د بهرنیو چارو د وزارت په نورمونو برابر وي او له بلی خوا د افغا نستان په دوه رسمی ژبو( پښتو او دری ) پوره تسلط ولري او په ایران کی دخپلو افغان کډوالو د پاسپورټ او نورو اسنادو د ویشلو په برخه نه ستړی کیدونیکي هلی ځلی وکړي او د خپل وطن ګټی د پردیود ګټو نه غوره وبولي او د پردیو د جا سوسي تر اغیزی لاندی رای نشی او کومي هغه پیسی چی دافغا نستان د دولت نه د معاش په نوم تر لاسه کوي خپل ځانته حلالی کړي. (پای)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ